دغه دوه لاندی مقالی دزمان په نظر کی نیولوسره دلوستلو وړ لیکنی دی

*****

لمړی مقاله :

-----------------------



لیکونکی : جیمس زوگوی «James Zogoy»

منبع او دخپریدو نیټه : کمان دریم «20-12-2023»

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

---

# په غزه کي داسرایلوپه لاس د نسل کشي د برید ملاتړ متحده ایالات نور هم لاپسي څنډی ته وړی یا چي لا پسی منزوی کوي!

## *Support for Israel's Genocidal Attack on Gaza Further Isolates the United States*

*روان مدیریت یا اداره دمتحده ایالاتو اعتبار او موقف او بیا زمونږ له لوری بی پری توب ارزښتوته سترتاوان رسوی*

***The administration is doing damage to US standing and credibility and to our self-proclaimed values and principles***



*ماشومان د اکتوبر په 15، 2023 کې د غزې په خان یونس کې د اسراییلو بمبارۍ وروسته ژاړی*
*(عکس د احمد حسب الله / ګیټي امیجز لخوا)*

د تیری اونۍ حوادثو یا پیښو داروښا نه کړي چي څرنګه داسرایل له خوا د روانی پالیسویا دتګ لارو څخه دمتحده ایالاتو پواسطه سره بی معنی ملاتړ ترکومه حده پوری متحده ایالاتو ته تاوان راورسول اوهغه داچي د ملګرو ملتونو په غزه کي داوربند ددوه ځلی غوښتنی د امریکی له خوا ویتو کول کوم چی دهغه په ترڅ کی د متحده ایالاتو ډیر نژدی متحدین خپل لاره بیل او آمریکی یی یواځی پریښودل چی په دی ډول د نړی ډیری خلک زمونږ مشرتا به تر پوښتنی لاندي راوړل ؟

له څه د پا سه دوو میا شتو په موده کي د غزې په تړانګه کې دفلسطینیا نوپه وړاندې د اسرائیلو بې رحما نه ګوزارونه چي لا تراوسه دوام لري .تر دې د مه د وژل شویو کسانو شمېر نږدې ۲۰ زرو ته رسېدلی، چې ډېری یې ملکي وګړي دي .د غزې په شمال کې د اسرایلو بمبا ریو له نیمایي څخه زیاته برخه یې خړوبه کړه، په داسې حا ل کې چې نږدې دوه میلیونه فلسطینیان د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شول .د لنډ بشردوستانه وقفې وروسته چې د یرغمل شویو او بندیانو تبادلې ته اجازه ورکړل شوه، اسراییل خپل بمبارۍ کمپا ین سویل ته واستاوه یا وغزول چیرې چې دوی هره ورځ فلسطینیا نو ته امر کوي چې له یوې سیمې څخه بلې سیمی ته حرکت یا کډه وکړي، نو بیا یی یوازې هغه سیمې بمبارد کړي چې دوی یې د لیږد امر کړی دی . په موقتی کمپونو کي کوم چي په جنوب کي رامینځته شوی ولوږه اونا روغی بیداد کوي اوهغه دا چي د اپخپله یو انسا نی یا بشری نا ورین دي چي داسرایل په کړني سره ترسره کیږي اوهغه داچی مونږ کولی شو چی داسرایل دا ډول کړنې ته نسل کشی ووایو .

د دې کړکیچ د پراخیدو سره سم، تیره اونۍ په ملګرو ملتونو کې د متحده عربي اماراتو ماموریت یا دهغه د استازی له خوا په امنیت شورا کې یو پریکړه لیک وړاندې شو چې د بشردوستانه اوربند غوښتنه وکړ چی دغه پیشنهاد دیوی پریکړه لیک په توګه د 103 نورو هیوادونو لخوا هم تایید شو– کوم چي د شریکو سپانسرانود ریکارډ یا دثبت یومجموعه ده .اوداپخپله په ژوره توګه اندیښمنونکی وو چې متحده ایالاتو د رایې ورکولو لپاره د پام وړسیا سي پانګه لګولو لپاره وخت کارولی وو ترڅو چې نوریې د "نه"په رایه ورکولو کې د دوی سره یوځای کولو ته وهڅوی چي تولو ته څرګند شول.

دوی ناکام شول، او وروستی رایې د متحده ایالاتو د انزوا کچه منعکس کړه - د اوربند لپاره د 13،د«نه »رای د متحده ایالاتوپه شمول وه، اودانګلستان داستاذی « ممتنع»رای . اوبیا دامریکا د انزوا نور ثبوت یوه ورځ وروسته له هغه راپورته شو کله چې په عمومي اسمبلۍ کې د غیر پا بند اوربند «غیرالزام آور» پریکړه لیک 153 رایې ترلاسه کړې د امریکا او د نهو نورو هیوادونو شرموونکې ټولګه یې په مخالفت کې رایه ورکړه .

د ویټواو "نه"رایې لپا ره دمتحده ایالاتو توضیحات دا وو چې پریکړه لیک د مشورې لپاره پرته له کافي وخت تصویب شوی وه یعنی رای اچونه په بیړه سره صورت نیولی وه اما دادول توضیحات پخپله په کلکه یوشرمناکه اوغلطه دي اوداځکه چې په غزه کې د بشردوستا نه کړکیچ له جوړیدو یا له منځته کیدو څخه دوه میا شتې تیرې شوې او د متحده عربي اماراتو پریکړه لیک د څو ورځو لپاره ترځارنې لاندې جریان درلود چې د بحث لپاره دغه وخت کافي وخت دی حال داچې آمریکا د خبرو اترو پر ځای، امریکا اسرایل ته د وسلو اود مرمیو په مرسته اوپه لیږلو ځان متمرکزه کړه ترڅو نور هیوادونه داوربند سره په ضد یت د مخا لفو سره یوځای شي یعنی دآمریکی سره یوځای شي .اما هغه څه چې نړی ته روښانه شوي دا دي چې د **بایډن** اداره نه غواړي د اوربند غوښتنه وکړي .

په یاد مووی چې دوه نور فکتورونه دا پایله پراخه کوي . د ملګرو ملتونو له رایو یوه ورځ وروسته، چې متحده ایالاتو شکا یت وکړ چې په کا في ډول د غور کولو لپاره کافي وخت نه لري، د **بایډن** سپینې ما نۍ اعلان وکړ چې دوی کانګرس ته د لومړي خبرتیا پرته اسراییلو ته د« 14,000، XNUMX » توپخا نې ګولې د لیږلو یو اړخیزه پریکړه کړې یا په بل عبارت، دوی کافي وخت نه درلود چې اوربند په پام کې ونیسي، مګردوی هیڅ وخت اومهال ته اړتیا نلرل چې اسراییلو ته د وسلو د صا دراتو لړی بې له دی چې د سنا د کمیسیون دکنټرول قانون رعایت وکړي ترسره کړ نو دا په ځرګند بڼه د کانګرس د نظارت د منل شوی مقرراتو څخه بې له سرغړونی بل شي نه دی .

یوه اونۍ وړاندې ، د سپینې ما نۍ د حنوکا (اهداکونکو یادموقوفاتو) په غونډه کې، ولسمشر **بایډن** د اسراییلو سره د خپلې مینې په اړه، ځان ته د دفاع حق ورکړ، او ژمنه یې وکړه چې امریکا به تل د اسراییلو سره ودریږي .هغه بیا هغه څه رامینځته کړل چې د اسراییلو دجګړې په دترسره کولو باندې انتقاد یا نیوکی وکړ او هغه داچې پر اسرایل باندي په غزه کې د "بې توپیره بمبارۍ" تور ولګول او هغه داچې مخکې لدې چې څوک تصوروکړي چې پراسرایل باندي دهغه نیوکي د کوم یو مهم بدلون څخه نمایندګي کوي بله ورځ د هغه داداري یوه ویاند د ولسمشر دغه څرګندونې "بی ارزش اوبی اهمیت" ، وګڼل پداسي حال کې چې هغه یوه بل وړاندیز وکړ چې اسراییل په حقیقت کې په سویل کې د نوي بمبارۍ کمپا ین کې ډیر محتا ط اودقیق په نښه شوی وو

د دې پر ځای چې په جدي ډول د فلسطينيا نو د ژوند د له لاسه وتلي زيا نونه او د هغو ناخوالوشرايطو ته وکتل شي کوم چې ژوندي پاتې شوي کسان ژوندکولوته اړ شوي، اما امريکا د "حماس دله منځه وړلو"اوداسرايلوخيالي پوځي هدف ته لومړيتوب ورکوي . د پايلې په توګه، د متحده ايالاتو پا ليسي جوړونکي د اوربند غوښتنه د ګډوډۍ په توګه ګڼي .

ما د هغه خبرو يا دونه وکړه ياچي ماته دهغه خبرو ديادوني فرصت ترلاسه شو کوم چې ما د بايډن اداري ديولوړ پوړي چارواکي سره د دی جګړه په هکله څو اونۍ مخکې دخبرو اترووخت درلود ،هغه چاروکي د اسراييلو د تارونويا دآهنګونو په غبرګولو سره وويل چې دا"اوربند به د زغم وړنه وي ځکه چې دا به يوازې حما س ته د بيا وسله وال کولو وخت ورکړي ". وروسته کله چې ما د غزې د مړګونو او ويجاړيو يادونه وکړه، هغه وويل "دا هم د زغم وړ نه ده ". ما ځواب ورکړ: "نو دلته دوه "د زغملو وړ" دي او تا سو هغه غوره کړی چې د فلسطينيا نو ژوند ته دوام ورکوي .

دا تبادله هغه وخت رامنځ ته شوه چې په غزه کې د مړو شميره 3,000 وه .اوس دا شمير 20,000 ته نږدې دی، او نړۍ او د متحده ايالاتو د نظر يوه مهمه برخه نه يوازې د اسراييلوله جګړې بلکه د دې لپاره دمتحده ايالاتوله ملاتړڅخه ستړي شوي دي .اوسنی اداره دمتحده ايالاتو موقف اواعتباراوبيا زموږ له طرفه د بی پرې اعلان شوي ارزښتونو او اصولو ته زيا ن رسوی.

اصلي خبره دا ده اوهغه دا چې په داسې حال کې چې د اسراييلو د چلند يا دکړه وړو په اړه د امريکا اود نړۍ عامه افکار د بدلون په حال کې دي، د امريکا پالیسي په ټپه ولاړه ده اوآمريکا په زياتيدونکې توګه انزوا کيږي.

**دليکونکی په اړه څوکرښي:**

**داکترجيمززوګبي** په 1985 کال کې د عرب امريکايی انستيټيوټ، په واشنګټن، DC کې ميشته موسسه جوړه کړه چې د عربي امريکايی ټولنې د سيا سي او پا ليسۍ څيړنې څانګې په توګه کار کوي او د ريس په توګه خپل خدمت ته دوام ورکوي .هغه د زوګبي ريسرچ خدماتو رييس دی ، يو شرکت چې په منځني ختيځ کې يې د پام وړ سروې ترسره کړې



**------------------------------- په درناوی «22-12-2023»**

## دوهمه مقاله



ليكونكى: ران بيلر «Ryan Biller»

منبع اودخپريدو نيټه:كمان دريم «2023-12-20»

ژباړونكى : پوهندوى دوكتور سيدحسام «مل».

# كه پر غزې د اسراييلو بريد ترهګري نه وي، نو څه دي؟

## *If Israel's Assault on Gaza Isn't Terrorism, What Is؟*

**زه په خپله د منافقت احساس كوم كه زه وايم چې كله يو اسراييلى ماشوم د زبر ځواك په راكټ وژل كيږي دا ترهګري ده، خو كله چې يو فلسطينى ماشوم د حكومت په رافرش كړى بمب سره وژل كيږي نودا انصاف دى.**

***I realize my own gaping hypocrisy if I were to say that when an Israeli child is killed by a zealot's rocket it is terrorism, but when a Palestinian child is killed by a government's carpet bomb, it is justice.***



***دغزې ترانګې په شمال کې د اندونیزیا له روغتون څخه ایستل شوي ټپي شوي فلسطینیان د نومبر په 20 ، 2023 کې د اسراییلو او د فلسطین حماس غورځنګ ترمینځ د روانو جګړو په جریان کې د فلسطیني خاورې سویلي ښار خان یونس کې د ناصر روغتون کې پاملرنې ترلاسه کوي) . عکس- : AFP/د ګیټي عکسونو له لارې***

***********

کله چې ما وروستی ځل د غزې د ترانګې د ویجاړولویا دخرابیدلو په اړه لیکلي و، په هغه وخت کې یوازې ( 8,500 ) کسان وژل شوي وو، او پر غزې با ندی یوازې (12,000 ) ټنه لوړ چاودیدونکي توکي (انفجاری مواد) غورځول شوي وو .دا هغه وخت وو . اما هغه څه چې له هغه وخته راهیسې پیښ شوي زما مخکینې لیکنې به تا سو ته داسې به ښکاري لکه څنګه چې زه د نسبي سولې وخت بیانوم .

په مجموع کې، اسراییلو په غزه کې( 25,000) ټنه لوړ او قوی چاودیدونکي توکي غورځولی ، چې په پایله کې یې تر اوسه ( 19,667) (رپوټ شوي) کسان وژل شوي، اوداسی اټکل کیږي چې« 70٪ » یې ماشومان او ښځې دي، او هم له( 52,000 )څخه ډیر کسان ټپیان شوي دي .په غزه کې ټپ د پښې د ما تید و یا دپښې د بند د تا ویدو معنی نه لري . دلته دا معنی لري چې پښه اویا دبدن غړی له بدن څخه جلا اوټوټه ټوټه شوې یا خپل شکل ته تغیر ورکړی یا چې سترګو جاودیلی ، یا غړی اوماغذه له کاره ولویدلی یا د اوریدلو زیان (او دا حتی د رواني زیان حساب نه کوي) .را اغوښتی دي او، په غزه کې، چیرې چې نږدې نیما یي نفوس ما شومان دي ، له( 6,000) څخه ډیر ځوانان وژل شوي - یا د هغو کسا نو شمیر چې لا تر اوسه ورک دي یا د ختو لاندې ښخ شوي دي. دبلی خوا څخه تر« ۸۵ » سلنه زیات وګړي هم بې ځایه شوي دي .

هغه څه چې د غزې په ترانګه کې مستند شوي دهغه تشریح د دوزخ د ناورین په څیر ښکاري . ډیری فلسطینیا ن چې د بمباریو څخه ژوندي پا تې شوي دي د اسهال، یرقان، هیپاټایټس او په یو شمیر نورو ناروغیو اخته دي .د دې ډول کړاوونو لپاره سیمه ایز طبي سیستم یوازې سرغړاوی کولی شي ، اودا ځکه چې د IDF (داسرایل ددفاعی ځواک)لخوا د اکمالاتو کمښت د غزې روغتیایی پاملرنه په ګونډو کړې ده .

کله چې ما شومان، ښځې او نارینه په بمونو الوځول کیږي ، دشورشی مسلما ن یاغیا نو د رګټاک ډلې [ راک اوټاک په 16 او 17 پیړیو کې نسبتا عام بیان و، او دا اکثرا د ټولنې د ټیټو طبقو غړو ته د راجع کولو لپاره په توجیه توګه کارول کیده ........تفصیل ددی قلم لخوا ] لخوا نه، بلکې د حکومت د څو ملیونی ډالرو په ارزښت جنګي الوتکو لخوا برید کیږي، موږ دغه کړنه څه فکر کوو ؟ انتقام؟ جګړه ؟ یا عدالت ؟

معتبر دلیلونه کیدی شي چې اسرایل دخپل لوی ملی امنیت د ټیکا وو په سا تلو کې د لته داسرایل په د ننه کی د ښمنا ن وزیږوی اوهمدا شا ن په بهرکی په ورته بڼی سره به

دښمنان وهڅوی اوخپل ملی امنیت دخطر سره مخامخ کړي - دغزي له ایری اوله دوړو څخه را پاڅید لی زیان لیدونکو ژوندي یتیما نواوکونډی رنډی کوم چي اوس څه شي په لاس کی نه لری یا چي کوم شي دلاسه نه ورکوي نوغچ اخیستل یی له هغو کسا نو څخه دي کوم چي دهغو کورني ، کورونه اودهغو معشیت را لوټ کړي دي . په یاد ولریی چي دیو ټولني ټول جمیعت له مینځه وړل پخپله د ترووریستا نو شمیر زیاتوی او هیڅکله یی نه کموي اوبیا هغه داچي دتروریزم له یو شکل څخه بل شکل ته راآوړي یا رازیږی .

مګر په لاس کې مسله یا تربحث لاندی موضوع خورا لویه ده . دا په سیما نتیک بڼی سره د معنی پیژند نی مسله نه ده ، بلکه دیو خطرناک ډول غوره اخلاقي درجه بندي ده . زه ویره لرم چې د سیا رې په دې کوچنی ټوټه ځمکه کې څه پیښ را شوي چې نړۍ یې دومره زړه راښکونکي کړې اوهغه داچي د ډله ایزې وژنې په وړاندې زموږ په ډله ایز غبرګون کې د منا فقت ړوند ځا ی روښانه کوي . راځئ فرض کړو چې یو سیا سي ارګان برید پیل کړ چې له ( 19,000 ) څخه ډیرخلک یې ووژل چې اکثریت یې ښځې او ماشومان دي . پرهغوبرښنا، خواړه او طبي سا ما نونه یې بند کړل ؛ خپل مخا لفت ته د "انسا نی حیوانا تو" په توګه روښانه کړل ؛ منا بع اوطبی مرستې یې د ال نصر په روغتون باندی ودرول چې دهغه په نتیجه کې یې ماشوما ن بې پا مه، مړه او له مینځه لاړل ؛ یا داچي د بلډوزر په چلولو سره په خوب ویده ملکي وګړي کوم چې د روغتون څخه دباندې پناه اخیستې وه ووژل . مور او لور یې په کلیسا کې ووهله او په دې برید سره د« 60» څخه د زیا تو خبریالانو ژوند واخیست . راځئ چې فرض کړو چې پورته ذکر شوي د اسراییل ریپ شیټ [د پولیسو نیول ریکارډ په ځانګړي توګه د یو فرد لپاره نه دی...... تفصیل ددی قلم پواسطه ] نه دی .کوم اصطلاح دا ډول عملیا ت غوره یا پرځای بیانوي؟ که دا ترهګري نه وي، نو زه ډاډه نه یم چې څه دي. ؟؟؟؟

نیویارک ټایمز په دې وروستیو کې راپور ورکړ چې د اسراییلو پوځ د 40 مخونو پلان په واک کې درلود، چې کوډ یې د "جیریکو وال" په نوم یا د یږي، چې د حما س لخوا د سویلي اسراییلو ټولنو باندې یو کال دمخه د برید یادونه کړې وه .راپورونه داهم وړاند یز کوي چې د اسراییلو لومړي وزیر **بنیامین نتنیاهو** له خپل نږدې همکار څخه وغوښتل چې د غزې د نفوس "کمولو" لارې و لټوي . دا ډول افشا ات شکونه روښانه کوي چې هغه څه چې اوس په غزه کې ترسره کیږي د تروریزم سره د مبا رزې سره هیڅ تړاو نلري، او پرځای یې په لویه برخه کې د سیا سي او ځمکنیو ګټو لپاره هڅول کیږي ، د یوې غمجنې پیښې په کارولو سره د جګړې هڅو لپاره د خلکو ملاتړ ترلاسه کولو او د اشغال توجیه کولو لپاره په پټې سره .

بمباري شا ید د IDF په ریکارډ کې ترټولو ناوړه شی نه وي .وروستي راپورونه چې اوس خپریږي ښیي چې اسراییلي پوځیا نو په یوه ښوونځي کې په یوه خا لي ځای کې پر ملکي وګړو ډزې کړې، چې د اعدام په بڼه دي .اسراییل طبي تاسیسات په نښه کړي ، په ځانګړي توګه د الشفا روغتون . شواهد ښیي چې IDF سپینې فاسفورس توپخانې کارولې

*دي، او له بندیانو سره يې د سترګو پټولو، بربنډ کولو ، لاسونو او پښو تړلو او وهلو سره ناوړه چلند کړی دی . د رویټرز عکاس عصام عبدالله وژنه د اسراییلو لخوا قصدي عمل بللی شو .دا ټول په بل نوم ترهګري ده .*

*مګر یو آلمانی ملګری ماته بل ډول وایی . هغه نشي کولی په اسراییلو با ندې نیوکه وکړي ، هغه تشریح کوي ، ځکه چې د هولوکاسټ پاتې ګناه اسراییل پخپله د یهودي خلکو مترادف ګرځولی دی . زه له دې سره موافق نه یم .موږ د هولوکاسټ قربانیا نو ته درناوی کوو چې د اسراییلو د نیوکې مخه ونیسي ، مګر د دولت حساب ورکولو سره .هیڅ حکومت ته باید اجازه ورنکړل شي چې د معا فیت سره عمل وکړي .*

*په غزه کې د دوزخ ټول نښې ، نښا نې یا عذابونه لیدل کیږي او هغه داچي دانجنو اودهلکا نو څخه دهغو له ګیډو څخه درااېستل شوی داخلی غړی (احشا) انځورونه اويا دغزی له وران شوی کورونو څخه سوځېد لی ټوټه ټوټه شوی جسدونه هغه انځورونه دی چي دهرلیدونکی ترسترګو کیږي ! - زه استدلال کوم چي یو لړ ترهګریز عملونه چې د امریکا په ملاتړ اسراییلو لخوا دوام لري .کوم چي زیا ته وینه توی شوې ده . او دهمدی دلیل پراساس زه حما س هم نه بخښم، ځکه چې هغوی هم یو تروریستي سازمان دی، خو زه د خپل ځا ن د منا فقت احساس کوم، که ووایم چې کله یو اسرائیلي ماشوم د یهودي په راکټ ووژل شي، دا ترهګري ده ،خو کله چې یو فلسطینی ماشوم ووژل شي. اوهغه هم د حکومت دفرشي بمونوپه غورځولو سره ،آیادا انصا ف دی .ترهګري ډیری بڼې لري .اسرایل او د هغه امریکایی انډیوالان یې ورروستی بېلګه ده.*

## یو څوکرښې ددی مقالی د لیکوال په اړه :

***راین بیلر یو خپلواک لیکوال دی چې د نیویارک تایمز، پولیټیکو، د منځني***



***ختیځ مانیټر، مونګابې او نورو لپاره یې لیکلي دي***

**--------------------- په درناوی «23-12-2023»**

.